مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

زلمی نصرت

۲۰۲۳/۱۱/۱۴

# افغانان د تفکر په لور

زما مخاطب ځوان نسل دی، نه هغه بازماندگان، چې لا پرون کې بند دي، پرون کې شتنکي وهي او یا د بل چا د ملاتړ په انتظار سیاست کوي.

په بهر کې د ځنو افغان سیاستوالو، روڼ اندو او د کیڼ، ښي او غربي لبرال کړیو، لویه او ستره غلطي، اشتباه، ضدملي دریځ، مشکل او غیر افغاني فکر په دې کې ده، خیانت خو پریږده، چې نه یوازې خپل تېروتنې نه مني، د خپلو تیرو فکرونو، لارو، کړنو او بهرني برنامو ماته او شکست نه مني او بیا بده خو دا ده، چې خپلو تاریخي تیروتنو ته بې بنیاده دلایل وړاندې کوي او د افغانستان ملي ګټې د خپل ځان په حضور او د خپلو کوچنیو ایدیالوژیکو ګټو د حضور په هنداره کې ویني او پې شخوند وهي.

موږ ټول د نیمې پیړۍ د ترخو او خونړیو حوادثو د بهیر عیني شاهدان یو او و مو لیدل، چې څنګه چپیانو، راستیانو او د غربي لبرال د دیموکراسۍ حامیانو بهرني فکرونه، نسخې او ایدیالوژۍ د ټولنې د روان سره په ټکر کې پلې کړل او د افغانستان ناپیلتوب یې څنګه له منځه یووړ.

افغانستان یې داخلي جنګ کې راښکیل او د بهرنیانو بربنډو مداخلو، یرغل او د هغوئ حضور ته لارې خلاصې کړې.

ژبني، سمتي او قومي اختلافات یې وکرل.

د قدرت ټاپوګان او زور واکه توپکیان یې را وزیږول.
د افغانستان هویت او شتون یې له جدي خطر سره مخامخ کړل.
ملي او د وطن سره د مینې، ابادۍ او د کار او خدمت روحیه او فکر یې په زړو او ځوانانو کې ور ووژل او ډیری مو پردیپال شول.

فساد، د بیت المال چور، غضب او د جیبونو ډکول د افغان سیاسیونو او چارواکو ورځنۍ دنده او کاروبار و.
د وګړو فردي مصئونیت او حقوق لیلام او بې دفاع افغانان کتلوي هجرت ته اړ شول.

په داسې شرائطو کې، چې لاره د ټولو نه ورکه وه، طالبانو د اسلامي نهضت تر نامه لاندې د افغان او افغانستان د ساتلو او ازادولو اراده وکړه او د اسلام حلقه یې د یو ګډ ثقافتي میراث په توګه، په یو ناخیله ملک کې په خپل لاس کې واخستل او د افغانستان د نجات لپاره، میدان ته ور ودانګل او د افغانانو د سترو قربانیو په بیه یوار بیا اشغال او انارشیزم ته خاتمه ورکړل.

د افغانستان یوالی، ثبات او سلامتیا یې خوندي کړل.
افغانستان یې له شره او له فساده پاک او له نسکوریدو او نړیدو څخه وژغورل او دادی افغانستان د استحکام، امنیت او ثبات په لور، د خود کفایی او خپلواکۍ په لور، د بیا رغونې په لور د داخلي امکاناتو څخه په استفادې د پرمختګ په لور، د اوبو، ځمکو او معادنو د مدیریت، د بندونو او سرکونو د جوړولو او صنعتي کیدو په لور، ارام، ارام په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بریالیتوب سره قدم پورته کوي، هیلې را ژوندی کوي او با درده افغانان ورڅخه خوند او حظ وړي، چې څنګه د آبادولو په پروسه کې ونډه واخلي او که کوم بل څه نشي کولای، ذهنیتونه او فکرونه خو روښانه کولای شي.

که افغان شمولـه فکر وکړو او د افغانستان په اړه فکر وکړو او د ااا دا دوه کلن اقداماتو ته له تورو عینکو ونګورو. قضاوت به دا وي، چې د طالبانو نهضت یو عمل ګرا نهضت دی، د ااا چارواکي د عمل خلک دي، نه دشعار او د تشو او پوچو خبرو واکداران، لفاظان او نطاقان.

د ګاونډیانو سره، د سیال په توګه د ملي ګټو په چوکات کې په خورا احتیاط تعامل کوي، د نړۍ د ټولو فشارونو او تحریمونو سره، سره.

دغه ملي اقدامات و غیر ملي شکست خوړولو کړیو او افرادو ته د سترګو اغزي دي او له هغه ځایه څخه، چې دا بریالیتوبونه زغملای نه شي، نو د کاذبو ګذارشاتو او پرو پاګندیو په خپرولو لاس پورې کوي.

ښه ته ښه او ناسم ته ناسم باید ووایو، د هغوئ هنر مو د بیلګې په توګه وستایل، خو د طالبان ټول کارونه ایدیال نه دي.
په ډیرو برخو کې، لکه ښځو ته د تعلیم او لازم مدني حقوقو د اعادې په برخه کې د هغوي فیصلې هیڅ یو با درده افغان منلای نه شي او که دوی همدا شان ادامه ورکړي، نړۍ وال له یو خوا او افغانان له بل خوا کولای شي، چې لوی مشکلات او نه جبرانیدونکي خندونه د آینده لپاره خلق کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ